**د۱۳۸۸کال رپوټونه**

**دکنترول او پلټنې ادارې د۱۳۸۸کال په اوږدو کې دجمهوري رياست له خوا دمنظور شوي کلني پلان سره سم ،پلټنې او فعاليتونه تر سره کړي دي چې په لنډه توګه يې په لاندې ډول يادونه شوې ده :**

ترپلټنو لاندې مراجعې ۸۷۲ مرجعې مرکزي او سيمه ايزې ادارې او ځينې نماينده ګۍ په بهر کې پکښې شامل دي

پلټل شوې مراجعې ۷۲۰ مراجعې

هغه مراجعی چې پلټل شوې ندي ۱۵۲ مرجعی دامنيتي نامساعدو شرايطو له امله .

سربيره پردې دپوهنې ، مخابراتو او دعامې روغتيا په وزراتونو کې دکړنو پلټنه ( تفتيش عملکرد ) تر سره شوې او په پلټل شوې پروژوکې اغيزمتيا شتون نه درلود.

هغه رپوټونه او دوسيې چې ددولت دحقونو دتحصيل او تحقق په موخه ورسته له شننې او ارزونې دنيمګړتياو داصلاح په موخه اړونده ادارو ته ابلاغ شوې (۶۶۴) رپوټونه دي .
د ماليې نه وضع کولو،صکوک ، ،صفايي ، ټکس، دجنس دقيمت تفاوت ، ترانسپورتي کميشن، ټکس، ، دقيمت توپير، دځنډ جريمه ، اضافه ورکړې . ناسم سنجش ،فاضله مبلغ او دقيديت وړ اقلام دپلټنو دموندلو له مدرک څخه چې ددولت خزانې ته دتحصيل وړ تثبيت شويدي دي مبلغ (۱۵۳۱)مليونه افغانۍ کيږي.
لوی څارنوالي ته ليږل شويو دوسيو تعداد (۱۳) دوسيې دي.
په دوسيو کې شامله وجوه مبلغ (۹۳۳ ) مليونه افغانی.

مبلغ (۶۴۶) مليونه افغانۍ دپلټنو او داطمينانيوله اصولو څخه له مراجعو څخه ددولت خزانې ته ليږل شوي دي .
مبلغ (۹۱۴) مليون افغاني د ادارو دکړنوپه صورت کې چې موږ ته يې له مراجعو څخه ډاډ را کړی تصفيه شوې دي .

همدارنګه دپلټنو دپايلو توحيدي رپوټونه ترتيب او پکښې (۳۴) مورده تيروتنې په اداري کړنو کې ځانګړې شوي ، دلري کولواو اصلاح په موخه يې (۳۳) مورده اصلاحي سپارښتنې وزارتونو او ادارو ته وړاندې شوي دي .

په ۱۳۸۸کال کې هم دکارکونکو دوړتیا په لوړوالي کې عملي اقدامات تر سره شوي دي ،څرنګه چې په تعداد دې (۲۵) تنه دانګلیسي ، (۱۴) تنه دکمپیوټر(۲۸) تنه  دپلټنې په کورسونو کې ګډون کړی ده او(۸) تنو دهیواد څخه بهر زده کړې تر لاسه کړي دي .

دحامې اسنادونو څخه پرته دلګښتونو مدرکونو دپلټنې موندنې ، نامعقول لګښتونه او......  دنړیوال بانک WB دلګښتونو پروژو پلټنې په ترڅ کې مبلغ (۳۱،۲۸) ملیون ډالر ،  او دافغانستان  لپاره  دبیا رغونې دمرستو صندوق ARTF  مبلغ (8.96)  میلونه ډالر کیږي

سربیره پردې د۱۳۸۷کال قطعیه حساب پلټل شوی او دعادي او پراختیایي قطعیې په اړه  موافق مشروط اظهار نظر ورکړل شوی.

د۱۳۸۷ کال قطعیې  ته په کتو سره پدې کال کې  دعادي بودجې نه لګول شوې وجوه (٤،۹۹) ملیارد اود پراختیایي بودجې (٦٧) ملیارد افغانی په بر کې نیسي  چې په ترتیب سره دنه لګولو سلنه یې (٦،٧٤) او(۵۹،۷) سلنه ده.